له څه شي نه مې چې ما منع کړي یاست؛ ځان ترې وساتئ، او په څه شي مې چې درته امر کړی، نو تر خپلې وسې یې عملي کړئ

له ابو هريرة؛ عبد الرحمن بن صخر رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل چې فرمايل يې: "له څه شي نه مې چې ما منع کړي ياست؛ ځان ترې وساتئ، او په څه شي مې چې درته امر کړی، نو تر خپلې وسې يې عملي کړئ، ښکه چې ستاسو څخه مخکني خلک (په دين کې) د ډېرو پوښتنو او د پېغمبرانو په اړه د خپلمنځي اختلافاتو له امله هلاک شوي دي".

[صحيح دی] [البخاري او مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مور ته څرګنده کړې ده چې کله هغه له کوم شي نه منع وکړي، نو پر مور لازم دي چې له استثنا پرته ترې ځان وساتو، او کله چې هغه مور ته د کوم شي امر وکړي، نو بايد تر خپلې وسې يې ترسره کړو. بيا يې مور ته خبرداری راکړ او مور يې ووېرولو چې د تېرو امتونو په څېر نه شو، هغوی چې له خپلو پېغمبرانو ډېرې پوښتنې کولې او ورسره يې د هغوی مخالفت کاوه، نو الله جل جلاله په ډول ډول عذابونو او تباه سره مجازات کړل، نو په کار ده چې مور د هغوی په څېر نه شو، تر څو داسې هلاک نه شو لکه هغوی چې هلاک شوي دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66517